پوهندوی آصف بهاند

# د فرهنګ د بڼ بورا

## عمر بورا زماني

(شاعر، لیکوال او سیاسي شننونکی)




### یو افغان

ای وخـتــه بېـرتــه راشــه یـوافـغـان وزېـږوه
یـا خــو احـمـدخـان یـا مـیـروس خان وزېږوه

چې ننګ په وطن وکړي داسي ځوان وزېږوه
یــا خـو خوشحال خـان یـا پـاچـاجان وزېږوه

چې بـیـرغ د ازادۍ کـړي زمـوږ پــورتــه
داسـي یــو بــادشــاه لــکــه امــان وزیږوه

جـوړه چـي انـګـریز تـه کـړي غزا د ارنوۍ
داسي لـوی غـازي میـرزمـان خـان وزیږوه

چــي ســر و مــال قــربــان کـړي لـه وطـنـه
مــیـنـــه د وطـــن کـــي افـغـــانـــان وزیږوه

ټپـي د ازادۍ کـړه بــورا تــه پـه خـیـالـونـو
راشــه پــه شـعــرنـــو کـي طـوفـان وزیـږوه

عمر بورا زماني

بورا زماني ظاهراً یوساده پښتون ته ورته ځوک ښکاري، خو که لږ له نږدې وپېژندل شي، خبرې ورسره وشي او ژوندلیک یې ولوستل شي، نوښکاره به شي چې بورا زماني یو مهذب، د لوړو زدکړو خاوند، د ځو ډیپلومونو لرونکی، په افغاني ادب سمبال د مشرانو او کشرانو د شفقت او درناوي

پېژندونکی او یو دانشمند شخصیت دی. په فرهنګي کارونو کې د لویې حوصلې لرونکی او لوړ استعداد خاوند شاعر او لیکوال دی.

مخکې له دې چې د بورا زماني پر فرهنګي، ټولنیزو او سیاسي فعالیتونو خبرې وکړم، درنو لوستونکو ته د بورا زماني د هغې بیوګرافی متن وړاندې کوم چې ده په خپله ما ته رالېږلې ده:

### د افغان لیکوال او شاعر عمر بورا زماني لنډه پېژندنه:

«ښاغلی عمر بورا زماني د نیک محمد خان زماني زوی، د شېر محمد خان زماني لمسی. د افغانستان د یوه ملي اتل او د خپلواکۍ د محاذ د نامتو قومندان او د ارنوۍ سوبمن (فاتح) غازي میرزمان خان کونړي کړوسی دی. ښاغلی بورا زماني د افغانستان د کونړ ولایت په وټه پور کیمهګام کلي کې پر ۱۹۷۵م کال دې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي.

نوموړی د ډېرو نورو افغانانو په څېر پر ۱۹۸۲م کال د کوزې پښتونخوا د پېښور ښار شاهین ټاون ته کډوال شو. په کوزه پښتونخوا کې یې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړه او په سیاسي علومو کې یې د ماسترۍ تر کچې خپلې زده کړې سرته ورسولې. په پېښور کې یې تر زده کړو بشپړولو وروسته پر ۱۹۹۷م کال ډنمارک هېواد ته مسافر شو، هلته یې هم له زده کړو سره ملګرتیا پرېښنوده، د نورو زده کړو ترڅنګ یې د «ای ټي» برخې په «سافټویر» جوړونه کې یو ډیپلوم ترلاسه کړ.

نوموړي د خپلو زده کړو ترڅنګ کار هم کاوه، چې تر یو څه مودې کار وروسته یې بل ډیپلوم په «لوجستیک منجمینټ» کې ترلاسه کړ، چې تر اوسه هم په همدې برخه کې کار کوي.

عمر بورا زماني په خپله مورنۍ ژبه زده کړې نه دي کړي او زده کړې یې په نورو پردیو ژبو (اردو او انګلیسي) کې په کوزه پښتونخوا کې ترسره کړي دي، خو لـه خپلې مورنۍ ژبې پښتو سره د بې کچې مینې له امله یې په کوزه پښتونخوا کې د «بورا» په نوم د یوې پښتو مجلې بنسټ کې کېښود او ورسره یې د «بورا» په نوم یو پښتو وېبپاڼه هم جوړه کړه، چې د همدې وېبپاڼې له لارې بورا مجله هم په انلاین بڼه ټولو افغانانو ترلاسه کوله، ورسره یې د بورا مجلې ۲۰۰ ګڼې په وړیا ډول د افغانانو په منځ کې په اروپا کې وېشلې او ۷۰۰ ګڼې به یې افغانستان ته لېږلې.

سربېره پر دې په اروپا کې د «پیلوزې» مجلې مسوول مدیر په توګه پاتې شوی. د پیلوزې مجلې بېلابېلې ګڼې به هم د نورو لیکوالانو له لیکنو سره د «بورا» وېبپاڼې له لارې خپرېدې.

د خپل ذوق او مینې پر بنسټ یې د شعر نړۍ ته هم مخه کړې ده او د هېواد د مشهورو سندغاړو په غږونو یې د شعر زمزمې د هېوادوالو غوږونو ته رسېدلې دي. د بورا زماني صیب په شعرونو، ځینو سندرغاړو له ځینو افغاني ټلوېزیونونو څخه د کال لومړي مقامونه او جایزې هم ترلاسه کړې دي.

ښاغلي بورا زماني په پښتو ژبه دوې شعري ټولګې لري چې یوه یې «د سپوږمۍ ځلا» او بله شعري ټولګه یې «دا نعره د هر افغان یو افغان» په نامه سره یادېږي، چاپ شوې دي.

دغه راز بورا «د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ» او «د افغانستان نن او سبا» په نامه یې د مقالو دوې ټولګې چې د ملي تحریک له خوا د دوو بېلابېلو جوړو شویو سیمینارونو لیکنې دي، ده راټولې کړې او په یادو نومونو د ملي تحریک له خوا پر ۲۰۱۸م کال چاپ شوې دي.

ښاغلی بورا زماني د شعر لیکنې ترڅنګ سیاسي او ټولنیزې لیکنې هم کوي. «لر او بر پښتانه او پښتو ژبه» کتاب یې چاپ ته چمتو دی، چې ډېر ژر به ان شاالله په افغانستان کې چاپ شي.

عمر بورا زماني په ډنمارک کې د افغان- ډنمارک کلتوري ټولنې جوړوونکی او لومړی مرستیال، په ډنمارک کـې د مـلي تحریک څانګې لومـړی مـرستیال او اوس د مـشرتابـه جرګې غړی، په

ډنمارک کې د لوی افغانستان غورځنګ مسوول، په ډنمارک کې د کېوالی شورا د مشورتي بورډ غړی هم دی او د دغو بنسټونو له لارې يې هېوادوالو ته ګڼ شمېر کلتوري او ټولنيز خدمات وړاندې کړي دي.»

بورا زماني په پښتونخوا او اروپا کې د ځو ښوونځيو او پوهنتونونو دروازې ورټکولې دي او له هر ادرسه ديپلوم په لاس بريالی او سرلوړی راوتلی دی:

ـ په سياسي علومو کې ماستري، پېښور - پښتونخوا،

ـ د «ای ټي» برخې په «سافټوير» جوړونه کې ډيپلوم، ډنمارک،

ـ په «لوجستيک منجمينټ» کې ديپلوم، ډنمارک.

د بورا صاحب د بيوګرافی په باب ډېر فعال فرهنګي شخصيت ښاغلي ډاکتر لطيف ياد په خپله فيسبوکپاڼه کې دا لاندې معلومات د ۲۰۲۰ ام کال د جون پر درويشتمې نېټې خپور کړی دی:

«زما دفيسبوک په فرهنګي ملګرو کې داخل تاسو ته يو بل فرهنګي شخصيت درپيژنم چې هم دپښتو ژبې تکړه شاعر دی او هم ليکوال او هم دافغانستان ديوه ملي اتل او دخپلواکی دمحاذ دنامتو قوماندان اودارنوي سوبمن ( فا تح )غازي ميرزمان خان کونړي کړوسی دی.

دغه فرهنګي شخصيت ښاغلی عمر بورا زماني د ی . ښاغلی عمر بورا زما ني دنيک محمد خان زماني زوی د شير محمدخان زماني لمسی او د لوی خان غازی مير زمان خان کړوسی دی .ښاغلی بورا زماني د افغانستان د کونړ ولايت په وټه پور کې دې نړی ته سترګې پرانېستي دي. نومو ړي د ډيرو نورو افغانانو په څير له هيواد نه بهر د دنمارک په هيواد کې ژوند کوي.ښاغلي عمر بورا زماني په سياسي علومو (پوليټيکل ساينس) کې د ماسټری تر کچې زده کړی په کوزه پښتونخوا کې تر سره کړی او تر زده کړو روسته دډنمارک هيواد ته تللی دی.په دنمار ک کې هم د زده کړو لړی پرې نه کړه او د نورو زد ه کړو تر څنګ يې يود يپلوم د ای، ټي په څانګه سافټ وير کې تر لاسه کړاو تر يوې مودې کار و روسته يې بيا بل ديپلوم په (لوجيستيک منيجمينټ )کې تر لاسه کړ چې لا تر اوسه په همدې برخه کې کار کوي د خپل ذوق او مينې پر بنسټ يې د شعر نړی ته هم مخه کړې ده او د هيواد د مشهورو سندرغاړو په غږونو يې د شعر زمزمې د هېوادوالو غوږونو ته رسېدلې دي.


ښاغلي بورا زماني په پښتو ژبه دوه شعري ټولګې لري چې يوه د (سپوږمۍ ځلا) په نا مه چاپ شوې او بله شعري ټولګه به يې چې (دبورا د زړه ارمان يو افغان يوافغان)په نامه سره يادېږي ددې کال تر پايه خپره شي. ښا غلی بورا زماني دشعر ليکنې تر څنګ سياسي او غير سياسي ليکنې هم کوي. ښاغلی بورا زماني دځلورو کلونو راهيسي زما دفيسبوک ملګری دي . ديو ه فرهنګي شخصيت او شاعر په توګه ز ه پر ده وياړم او له لويه خدايه ورته دزياتوبرياوو اوخوشاليو هيله کوم.»

عمربورا زماني د فرهنګ او پوهې په ډګرونو کې د خپلو زدکړو او تجربو په دايره ګڼ وياړمن کارونه ترسره کړي دي چې دلته يې د ترسره کړو کارنو ښلابېلي برخو باندې په لنډ ډول معلومات وړاندې کېږي:

**ـ شاعر بورا:**

بورا زماني د فرهنګ په ډګر کې د ده د نورو فعاليتونو په پرتله، په لومړي ګام کې د يو شاعر په نامه پيژندل شوی دی، ځکه چې د شعر بېلګې يې سندرغاړو ډېرې ښې زمزمه کړې دي او د ملي رنګ لرونکي شعرونه خويې ډېر مشهور دی.
ښاغلي بورا زماني تر اوسه دوې شعري ټولګې چاپ کړې دي چې دا يې نومونه دي:
ـ د سپوږمۍ ځلا،

ـ ده نعره د هر افغان: یو افغان.




د بورا د شعر و شاعرئ په باب د ده په بیوګرافي کې راغلي دي چې: «د خپل ذوق او مینې پر بنسټ یې د شعر نړئ ته هم مخه کړې ده او د هېواد د مشهورو سندغاړو په غږونو یې د شعر زمزمې د هېوادوالو غوږونو ته رسېدلې دي. د بورا زماني صیب په شعرونو، ځینو سندرغاړو له ځینو افغاني ټلوېزیونونو څخه د کال لومړي مقامونه او جایزې هم ترلاسه کړي دي.»

بورا زماني اوس هم د شعر د تخلیق په برخه کې فعاله دی.


**ـ ژونالست بورا:**

بورا زماني د فرهنګ او پوهې په ډګرونو کې د قدروړ فعالیتونه ترسره کړي دي. د ژونالیزم په ډګر کې یې د «بورا» مجلې په خپرولو سره قدم کېښود او په دې برخه کې یې بریالۍ تجربې وکړې.

د ژورنالیزم په ډګر کې بورا زماني په لومړي ګام کې د «بورا» په نامه د یوې پښتو مجلې بنسټ کې کېښود او ورسره یې د «بورا» په نوم یوه پښتو وېبپاڼه هم جوړه کړه. د بورا په یادداښتونو کې راغلي دي چې د همدې وېبپاڼې له لارې بورا مجله هم په انلاین بڼه ټولو افغانانو ترلاسه کوله، ورسره یې د بورا مجلې ۲۰۰ ګڼې په وړیا ډول د افغانانو په منځ کې په اروپا کې وېشلې او ۷۰۰ ګڼې به یې افغانستان ته لېږلې.




سرببره پر دې په اروپا کې د «پيلوزې» مجلې مسؤل مدير په توګه پاتې شوی. د پيلوزې مجلې بېلابېلې ګڼې به هم د نورو ليکوالانو له ليکنو سره د «بورا» وېبپاڼې له لارې خپرېدې.




د همدې مقالې د لیکلو لپاره ښاغلي بورا زماني د خپلې فرهنګي او دوستانه مهربانۍ له مخې ما ته د خپلو بېلابېلو فعالیتونو په برخه کې ښایسته ډېر مواد راولېږل. د دې غنیمت او قدر وړ موادو په منځ کې د بورا مجلې یوه پيډياف شوې ګڼه («بورا» مجلې د دویم کال (۱۳۹۰) دریمه ګڼه.) هم وه، په یاده ګڼې کې د دغو قلمي همکارانو مطالب خپاره شوي وو:

الله‌یار تلاش، عمر بورا زماني، خاکسار وقار، شهزاده شیرین زوی، محمدحسین میاخیل، سید عبیدالله نادر، منتظر افریدی، سحر ګل سحر، محمد اسحاق، محمد بلال جلالي، محمد عزیز تحریک، مینه فریادي ملکزی...

د بورا زماني په قول، د «بورا» مجلې شپږ ګڼې خپرې شوې او پېلوزه بیا تر دیارلسمې ګڼې پورې خپره شوه، وروسته بیا د دواړو مجلو چاپ او خپرېدل ودرېدل. بورا زماني یې د نه خپرېدو دوه دلایل وړاندې کوي:

۱ ــ میډیا مدرنه شوه،

۲ ــ اقتصادي ستونزې.

دغه راز د «بورا» ویبپاڼې د نه انلاین کېدو دلایل تخنیکي ستونزې یادوي.

**ــ بورا زماني او سیاسي مسایل:**

بورا زماني د خپلو سیاسي هلوځلو په ترڅ کې په مدرنه بڼه له میډیا نه په استفادې سره خپل سیاسي نظریات خپلو مخاطبینو ته وړاندې کړې دي. ده په خپلو ویډیو ګانو کې په ژوندیو سیاسي مسایلو باندې خبرې کړې دي، داسې مسایل چې هره ورځ افغانان ورسره مخ دي.

بورا زماني سياسي او ټولنيزې ليکنې هم کړې دي او د «لر او بر پښتانه او پښتو ژبه» په نامه يې يو کتاب چاپ ته چمتو دی.

بورا زماني په خپلو ويديوګانو کې د تلدوښمن ګاونډي پاکستان له دوه مخي سياست نه پرده پورته کوي. څنګه چې پاکستاني مقاماتو د افغانانو له مجبوريتونو نه په استفادې سره کلونه ـ کلونه د دوی په وينو او ژوند باندې تجارت کړی دی، پاکستان تل دوکې کړې دي او اوس هم هماغه پاليسي پرمخ بيايي، خو له پخوا سره يې توپير دا دی چې اوس په خپلو دروغو او دوکو کې راګير دی. د بورا زماني په قول، د ده د سياسي ويديوګانو اصلي موخه د پښتونخوا پښتنو ذهنيت بدلول دي او دوی ته د لوی افغانستان د جوړېدو فکر او ايديا ورکول دي.

پاکستانيانو د افغان طالبانو د يو پلوي قوت په توګه تل ويلي چې هغوی برحقه دي او بايد په افغانستان کې طالبان حاکم شي. کله چې طالبانو د ۲۰۲۱ ام ميلادي کال په اګست کې د دويمځل لهپاره واک ترلاسه کړ، هغسې ونه شول چې پاکستاني مقاماتو غوښتل، افغان طالبانو د پاکستاني حاکمانو پروګرام تطبيق نه کړ او د هغوی له اوامرو څخه يې نټه وکړه.

سياسي نظامي حالات داسي راغلل چې پاکستاني طالبانو هم د افغان طالبانو په پيروی بيرغ پورته کړ او وې ويل چې: پاکستاني لوړپوړو مقاماتو کلونه ـ کلونه په افغانستان کې د طالبي رژيم د رامنځته کېدو له پاره د افغان طالبانو ملاتړ وکړ، که د دوی له نظره دا سم کار وي، نو موږ هم په پاکستان کې طالبي رژيم او شرعي نظام غواړو. په دې ډول يې پاکستاني مقاماتو ته لويې ستونزې رامنځته کړې دي.

دغه راز بورا زماني په خپلو ويديو ګانو کې په افغانستان کې د ټوپکي رژيم د چوروواکو، زورواکو او هغو مفسدينو له کارونو هم پرده پورته کړې ده چې دا مفسدين به هم د دولت په ادانه کې له دولت نه شکوني کولې او هم به يې په ښکاره او پټه د نظام پرضد عملونه کول او په هره برخه کې يې اصلي موخه د خپلو جيبونو ډکول او د عامه شتمنی لوټل و.

عمر بورا زماني په خپلو ويديو ګانو کې د ايراني او پاکستاني مقاماتو د څوګونو غولونکو سياستونو نه پرده پورته کوي او په افغانستان کې د تنظيمي واکدارۍ د زورواکو کارونو باندې هم تندې نيوکې کوي او له اسنادو سره خپل سياسي استدلال وړاندې کوي. دا يې د څو ويديوګانو لينکونه دي:

https://www.facebook.com/omarbowra.zamani/videos/1969749716527382

https://www.facebook.com/omarbowra.zamani/videos/526455508628654

https://www.facebook.com/omarbowra.zamani/videos/263756802261906

د بورا زماني د سياسي بحثونو او ويديويي پروګرامونو په کامنټونو کې په ليکلې بڼه داسې ليکنې او جملې هم ترسترشوي دي چې ځينې خلک کېدای شي فکر وکړي دا پروګرامونه د پاکستاني طالبانو په تاييد او د هغوی په پلوي خپرېږي لکه دا لاندې کرښې:

پاکستان کې اسلامي نظام راتلل ضرور دی ځکه چې موږ نه غواړو چې دوی په اور کې اوسوځي ده دوی د اور نه د بچ کېدو لاره همدا ده چې طالبان په کې اسلامي نظام راولي. ژوندي دې وي تحريک طالبان پاکستان

مګر دا حقیقت نه ده، بورا زماني د ملي فکر خاوند او خپلو خلکو او وطن ته وفادار افغان دی چې تل د خپل وطن د ملي ګټو په کرښه کې روان دی، د فرهنګي او سیاسي کارونو اصلي محور يې د افغانستان پرمختګ، ابادي او د ملي ګټو تامین دی.

**لیکوال بورا:**

بورا زماني د خپل فرهنګي ــ سیاسي فعالیت په ترڅ کې ګڼې لیکنې هم کړې دي چې د انلاین میډیا له لارې خپرې شوې دي او د هغو ترڅنګ يې دغه اثار هم چاپ شوي دي؛

ــ د سپوږمۍ ځلا (شعري ټولګه)،

ــ ده نعره د هر افغان: یو افغان (شعري ټولګه)،

ــ لر او بر پښتانه او پښتو ژبه (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه)،

ــ د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ (د مقالو ټولګه، تدوین)،

ــ د افغانستان نن او سبا (د مقالو ټولګه، تدوین).

د بورا زماني ګڼې لیکنې په چاپي او انلاین خپرونو کې هم خپرې شوې دي چې د ځینو نومونه یې دا دي:

ــ له پېښور نه خپرېدونکې «وحدت» ورځپاڼه،

ــ پښتونخوا دات کام: ــ مورنۍ ژبه

ــ دعوت میډیا په دې ویبپاڼه کې یې د ځینو خپرو شوو مقالو سرلیکونه دا دي:

الف ــ مورنۍ ژبه، کلتور، پښتونولي او د پښتنو مورنۍ ژبه پښتو

ب ــ پاکستان کې ټول ټاکنې د پنجابي پوځي نظام دوام او د ځېرو بدلون دی نور څه نه

**https://dawatmedia24.com/?p=144486**

ج ــ سیاسي، ژبني او د رسنیو خپلواکي
https://dawatmedia24.com/?p=110666

بورا زماني خپل قلم تل په مسؤلانه ډول کارولی دی او د خپلو خلکو غوښتنې یې منعکسې کړې دي. بورا د مورنۍ ژبې په باب د یوې مقالې په ترڅ کې د دې مهمې موضوع په باب داسې لیکلي دي:

«تر اویا میلونه زیات پښتانه او زموږ مورنۍ ژبه پښتو

په لر او بر کې تر اویا میلونو زیات پښتانه ژوند کوي خود مرکزی اسیا د دې ستر ملت مورنۍ ژبه پښتو د پښتنو په خاوره حاکمه او د ضرورت ژبه نه ده . دا چې د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ لمانځوله همدې ورځې له تاریخ او اهمیت څخه یې پیل کوم، ورپسې د پښتنو واکدارنو مورنۍ ژبه پښتود لوی افغانستان د جوړښت د مخه او روسته او د پښتو ژبې د ودې ، پالنې او حاکمیت لارې چارې زما د لیکنې موضوع جوړوي.»

**ــ بورا زماني د یو فرهنګي او ټولنیز فعال په توګه:**

بورا زماني د ګڼو نورو ټولنیزو او فرهنګي خدمتونو وړاندې کونکی هم دی چې ځینې بېلګې په لاندې ډول ښودل شوې دي:

«عمر بورا زماني په ډنمارک کې د افغان- ډنمارک کلتوري ټولنې جوړوونکی او لومړی مرستیال، په ډنمارک کې د ملي تحریک څانګې لومړی مرستیال او اوس د مشرتابه جرګې غړی، په ډنمارک کې د لوی افغانستان غورځنګ مسوول، په ډنمارک کې د کډوالۍ شورا د مشورتي بورډ غړی هم دی او د دغو بنسټونو له لارې یې هېوادوالو ته ګڼ شمېر کلتوري او ټولنیز خدمات وړاندې کړي دي.»

بورا زماني د شعر و شاعري په څنګ کې کله کله سیاسي او ټولنیزې لیکنې هم کړې دي چې په انلاین میډیا کې خپرې شوې دي.

بورا زماني د یو متعهد قلموال په توګه تل د افغانانو د تعلیم پلوی پاتې شوی دی او هرکله په دې هڅه کې و او دی چې افغان نوی نسل څنګه وروزل شي. تل یې په خپلو خبرو او اشعارو کې د پوهې او تعلیم د ترلاسه کولو لهپاره کار کړی دی. دا لاندې شعر یې یوه ښه بېلګه کېدالای شي:

## علم

راځئ په ژوند کې دغه هم راواخلو
چې د ټوپک پر ځای قلم راواخلو

غم د وطن د ابادۍ چې وکړو
نه چې وراني پسې یې بم راواخلو

کاروان د پوهې سره مخکې یوسو
بیا به جنډه موږ د عالم راواخلو

دا چې تدبیر او علم موږ سره وي
هم خلافت به د ادم راوخلو

راځئ وطن د احمدخان وګټو
چې اتفاق سره قدم راواخلو

موږ به ویاړ د ازادۍ وګټو
بورا که علم او قلم راواخلو

بورا زماني د خپلو فرهنګي فعالیتونه په پار په اروپا کې په څو ستاینلیکونو هم نازول شوی دی، څو بېلګې یې دا دي:

ــ د افغان ډنمارکي د دوستۍ ټولنه،

ــ په ډنمارک کې د کونړ کولتوري ټولنه،

ــ انجمن فرهنګي ګلخوشه های هنر.







دغه راز د بورا زماني د فرهنگي خدمتونو په پار په کابل کې د ملي تحریک لخ خوا هم د ۲۰۲۲ ام کال په می میاشت کې یو شانداره محفل جوړ شوی و.




د دې شاندرې غونډې د جوړېدو په ریوټ کې داسې راغلي دي:

«د خپل وطن یو سندربول بورا

د ثور میاشتې پر (۲۹) مه نېټه د پنجشنبې پر ورځ له ژمني سره سم د افغانستان ملي تحریک له خوا د ژوندون راډیو ټلوېزیون د غونډو په تالارکې د هېواد د تکړه شاعر ، لیکوال، ټولنیز او مدني فعال؛ ښاغلي عمر بورا زماني د فرهنګي خدمتونو او کارونو د نمانځنې په پار یوه درنه علمي غونډه وشوه.

دا درنه غونډه د قران کریم د څو مبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شوه ، ورپسې پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون ، ضیاالرحمن ضیا ، ارزو سادات ، ایوبي ، فرید لطیفي ، عبدالهادي بېلوال او نورو د ښاغلي بورا زماني د ژوند ، مبارزو ، اثارو ، افکارو ، سیاسي ، ټولنیزو او فرهنګي خدمتونو

په باب هر اړخيزې خبرې وکړې او هغه يي د هېواد يو نه ستړی کېدونکی خدمتکار وباله، په غونډه کې د محمد بن موسی ښوونځي د تراني تيم د غړو له خوا د ښاغلي بورا زماني شعرونه هم زمزنه شول ، غونډه د هېواد د سوکالۍ او فرهنګي ښېرازۍ په هیله پایته ورسېده.»

د همدې پاسني پوست په کامنت کې آصف بهاند داسې ورته ولیکل:

«بورا صاحب پر وطن او خلکو یو مین فرهنګي شخصيت دی او دا کار يي عملاً د خپلو فرهنګي کارونو په ترسره کولو، ثابت کړی دی.
ستاسو دې کور ودان وي چې د داسې فعالو فرهنګي شخصيتونو لمانځنه کوئ.»

د دې کرښو په پای کې د بورا زماني د شعر ځوبېلګې وړاندې کوم:

## ځوان بوډا

هلته کړي ځواني ګډا

دلته دبوډا ژړا

هلته ټول خومار ،خومار

دلته ده ژړا دوا

هلته دا مستي د ژوند

دلته مايوسي سزا

هلته رنګينه ژوندون

دلته ده مستي فنا

ستا ځواني ګناه ، ګناه

ستا پيري دعا، دعا

هلته د شهوت لمبې

دلته ده سړه هوا

هلته ولولې دژوند

دلته ځنکدن دچا

اوس چې دا ځواني لري

نه لري بقا بورا

دا شعر سندره شوی دی او حشمت سحر په نامه سندرغاړي زمزمه کړی دی، دا يي لينک دی:

https://www.facebook.com/watch?v=985818576619249

## غــزل

يو ځل بيا مې د الهام ځوکې تخنيږي
چې خيالو کې ښاپيرۍ راته خنديږي

بيا وختونه اورني د ځوانۍ راغلل
بيا ګلونه د سپرلي راته پسخيږي

د ښکلا صفت يې نه کيږي لفظو کې
چې سپوږمۍ پاس په اسمان کې ترې شرميږي

چې د زړه په منارو کې دې انځور کړم
دغه زړه زما له زړه کله بېليږي

چې د ساه په هر يو کش کې يې نوم اخلې
ستا په مينه دا بورا ځکه نازيږي.

*****

## غــزل

چې مې نظر په يو نظر کې بند شو
داسې مې زړه په يو بشر کې بند شو

اې د ازاد نظر ازاد پر وازه
ځنګه وزر دې په سفر کې بندشو

اوس مې نظرپه نورو لارو نه ځي
چې مې نظر په يو ټکرکې بند شو

چې مې نظر په هر لور ښکار کولو
ځنګه دعشق په يو چکر کې بند شو

دا کوم نظر داسې اسير کړو بورا
د غاړې هار شو په هنر کې بند شو

*****

## مريض

اوس مريض يم نا توان يم
په ژوندون ډير پښيمان يم
که کارونه د ثواب واى
ښه حاصل به يې جواب واى
روح او نفس به مطمعين واى
که په يو الله مين واى
ښه خوشحال به له دونيا تلې
په رضا که د الله تلې
په بستر به پروت خوشحال واى
مطمعين به په ډېر حال واى

نه به وېره نه به ډار وای
مایوسی به نه ګوزار وای
نه له مرګه به نفرت وای
څومره پروت به په راحت وای
ارماني چې د تېر حال یم
پښیمانه په بد حال یم
تش لاسونه چې روان یم
ورخطا یم په سوران یم
په ائینه کې څنګ ښکارېږم
له خپل ځانه اوس ډارېږم
یوه بلا توره ښکاره شي
په کټو کې په غصه شي
په لاسونو کې یې اور وي
مخ یې تور لکه د سکور وي
چې د تبر پرې ګوزار کړم
لکه سیند په لاس حصار کړم
که هر څو کړمه وارونه
اوس بې وخته دي زورونه
نه پرې خوږه دا بلا شي
زړه مایوسه په ژړا شي
راراوانه سا مې اخلي
وېره ډار مې بدن واخلي
خپل الله ته په زارو شم
په دعا کې په سلګو شم
په ګنا خپل پښیمان شم
د تېر ژوند بیا په ارمان شم
د خوندونو لوی دریاب کې
وخت ؤ تیر لوهو لباب کې
کړی ظلم مې په ځان ؤ
چې ملګری مې شیطان ؤ
بلا وګوره قران ته
لوی د دغه کتاب شان ته
په کټو ترې جوړ انسان شي
ښکلی یو دم دا زمان شي
بیا زما لورې ته راشي
ښه په مینه په مسکا شي
پوی که چا ځان په قران کړو
که عمل پرې کوم انسان کړو
هر مشکل به یې اسان شي
دقران په لار روان شي
ثواب پاتې که وخت تېر شي
ګنا پاتې خوند هېر شي
دا دونیا د امتحان ده
چې بدې کړی په تاوان ده

هر سا کښې لره مرگی دی
پس له مرگه بیا ژوندی دی
په مرگي به مرگی راشي
زندگي به په خندا شي
نه به جنگ نه به جدل وي
نه به مړینه نه اجل وي
ټول به مینه محبت وي
نه به زړونو کې نفرت وي
نه به ولږه وي نه تنده
نه روزي پسې به منډه
نه ارمان به دې تېر حال وي
هر سړي به ښه خوشحال وي
څوک چې هره تمنا کړي
ور پوره به يې الله کړي
تل تر تله به ځواني وي
نه مرض نه به سستي وي
نه به غم نه به ژړا وي
ښه د ښکلو به خندا وي
په هر لور به وی گلونه
په هوا کې سرودونه
د مرغو خواږه غږونه
د مستي ډک شمالونه
ښه کارونه په دنیا کړه
د جنت دغه سودا کړه
که د الله کړی بندگي
بورا کامیاب ده زندگي

پای